UNODC
United Nations Office on Drugs and Crime

وزارت مبارزه علیه مواد مخدر
جمهوری اسلامی افغانستان

یوناما

**په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان دولت او ملګري ملتونه د ترياکو په کښت کې د کمښت وړاند وينه کوي.**

د ۲۰۰۹ کال د فبروری لومړی نیټه ، کابل - په کال ۲۰۰۹ کي کيدلای شي چې په افغانستان کې د ترياکو په کښت کې لا زيات کمښت راشي، دغه مطلب د مخدره توکو سره د مبارزې د وزارت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم سره د مبارزې د دفتر په ګډ رپوټ کې راغلی دی.

د افغانستان په هیڅ ولایت کې د ترياکو په کښت کې پورته والی نه ليدل کيږي، ۱۸ ولايتونه چې په ۲۰۰۸ کال کې د ترياکو څخه فارغ وو په هم هغه حالت پاتي کيږي او په ۷ نورو ولايتونو کې دغه کښت به ښايي را کم شي.

نن ورځ په هغه مطبوعاتی کنفرانس کې چې په کابل کې جوړ شوي ؤ د مخدره موادو سره د مبارزې وزير جناب جنرال خدايداد، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی کای آیده او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو سره د مبارزې د دفتر په هيواد کې د ميشت استازی ژان- لوک ليماهيو د هغو ميندنو او نتيجو د اعلان په صورت کې چې د ترياکو د چټکي سروې په صورت کې لاس ته راغلي وې دغه ټکي څرګند کړل.

د پخوانيو کلونو په څير په ۲۰۰۹ کال کې د ترياکو کښت زياتره په اوو بې ټيکاوه ولايتونو پورې په جنوب او جنوب لويديز کې محدود ؤ. په شمال، مرکزی سيمو او د هيواد په ختيز کې د حکومتي چارواکو د فشار، د خوراکی توکو د کمښت او په اغيزمن ډول د کښت څخه ترمخه د کمپاينونو په نتيجه کې د ترياکو په کرکيله کې کمښت ليدل کيږي. په جنوب او جنوب لويديز کې د ترياکو د کرکيلی کموالی د غنمو د بيو زياتوالی، د افيونو د بيو د ټيټوالی او د سختی وچکالی له امله د اوبو نشتوالي دی.

جنرال خدايداد د ښې کارونی د نوښت د معرفي او برخي اخيستنی په برخه کې د متحده اياﻻتو او انګلستان د هيوادونو د هڅو ستاينه وکړه او په نورو هيوادونو يې د برخي اخيستنی لپاره غږ وکړ. دا د ترياکو څخه د يو آزاد افغانستان په لور يو فرصت دي، او په هيواد کې د مخدره توکو پرضد مبارزه يوه ګډه مبارزه ده، موږ بايد د دی سيمی څخه د دی زيان ورکوونکي او خطر لرونکی پديدی د له منځه وړلو پخاطر د يو بل تر څنګ و دريږو.

د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کای آیده وويل، ننني خپور شوی راپور ښيی چې موږ ښايی د ترياکو د کښت د کچی د را ټيټولو په هڅو کې د يوی مهمی نقطی سره مخامخ شو. خو دا به زموږ په توان پوری اړه ولري

څو په دوو راتلونکو کلونو کې د دی هڅو څخه په بشپړه توګه کار واخیستل شی څو دا مثبت پرمختګونه یو ځای شی.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر استازی ژان- لوک لیماهیو د تریاکو په وړاندي د نه کښت په برخه کې د مخدره توکو پر ضد د وزارت د هڅو ستاینه وکړه، او همدارنګه یې ټینګار وکړ چې د مارکیټ دغه پیاوړي اصلاح د هغو فعالیتونو لپاره چې د هیواد په شمال کې پیل شوي د پرمختګ د پیاوړتوب لپاره یو فرصت دی، اړتیا لیدل کیږي چې دغه فعالیتونه د هیواد په جنوبی ولایتونو کې هم دوام ومومی. دغه اټکل شوي راتیتونه د عمل، همغږي او یو ځای کونی لپاره د هر کلی د یوي ښی بلنی په پرتله یوه کمه لاسته راوړنه ده.

ښاغلی لیماهیو د افغانستان د حکومت، ګاونډیو هیوادونو او نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه وکړه څو سیمه ایزه همکاری لکه د کیمیاوي توکو د اوښتنی څخه د مخنیوی هڅی پیاوړي کړي او د مخدره توکو اړونده مالی سرچینو جریان ودروي او د مخدره توکو د لابراتوارونو د له منځه وړلو هڅی ګړندي کړئ.